AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۱۹/۰۹/۲۵

# بوړبوښکی



موږ چې هر چیرې ځو، توپان ده بوړبوښکی راپسې

پر وچه دا راپسې، پر لمده دا راپسې

په بوړبوښکیو کې دنیا ته راغلو

منديې رامندې مو ګردونو او بادونو کې وې

چې رازلمي شوو، بوړبوښکی هم پسې لويې شولې

نور مو چې توان په کې د ژوند نه ليده

دوې مو وې خيلې، دوې مو پور کړلې ترې وتښتېدو

د لمدبل خُتن ته

او د اوبو وطن ته

ښکه چې ورسېدو

نرم شمال و، په توپان بدل شو

په سمندر کې بوړبوښکی جوړه شوه

اوس ترې وتلای نه شو

ترې تښتېدلای نه شو

پکې اوسېدلای نه شو

کله مې شک پيدا شي

موږه په خپله بوړبوښکو نه جوړ يو

چې هره خوا ځو بوړبوښکی جوړېږي

نه په لمده کې خلاص يو

او نه په وچه امان

۲۰۱۹/۰۷/۱۳
هيدرسليف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ